د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېرې

# پښــــــــــتو مجله

لومړی کال ◆ ۴۷ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰، د چنگاښ ۱۲ مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ



**د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې شپږمه ناسته ترسره شوه.**

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله وایي: «نن د هېواد د بقا، سلامتۍ، وحدت او یووالي مسله مطرح ده، باید خپل لومړیتوب روښانه کړو، هېڅوک د جگړې دوام او زیاتوالي نه غواړي، خو ددغه وضعیت په وړاندې چوپتیا نشي غوره کېدای.» جوته ده چې موږ له زړه سوله غواړو او له سولې غوره او ښه لاره نشته، خو پخلاینه دوه اړخیز تعامل دی؛ مقابل لوری هم باید د سولې لپاره واقعي اراده وښيي.







۸ صبح
دبېرون روایت | دنن هېنداره | دسبا زېری




# سرکرښې

## د هېواد حساس شرایط او د چارواکو مسوولیت

په داسې حال کې چې امریکا او ناټو سازمان د مې میاشتې له لومړۍ نېټې راهیسې له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ایستلو لړۍ پیل کړې، له دې سره هم مهاله طالبانو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې خپلو بریدونو ته زور ورکړی او په دې موده کې یې یو شمیر ولسوالۍ نیولې دي.

که څه هم د امریکا ولسمشر جوبایډن دغه هېواد ته د ولسمشر محمد اشرف غني او د ملي روغې جوړې د عالي شورا د رییس عبدالله عبدالله د سفر پرمهال له افغانستانه د خپلو ځواکونو پر ایستلو ټینګار کړی خو له افغانستان سره یې د مالي ملاتړ د دوام ژمنه کړې ده. د ناټو چارواکي هم په داسې حال کې چې له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو په حال کې دي له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو یې پر خپل ملاتړ ټینګار کړی دی.

له بلې خوا، د ننه په هېواد کې بیا دا اندېښنې زیاتې شوې چې بیا ځلې د اویایمې لسیزې کورنۍ جګړه پیل نه شي، ځکه افغانان نور د ناخوالو او کړاوونو وس او زغم نه لري.

بله پلو ته، د هېواد په شمالي او یو شمیر نورو ولایتونو کې د پخوانیو جهادي قوماندانانو په ملاتړ او هڅوونه ولسي خلک وسله وال شوي او د امنیتي او دفاعي ځواکونو ترڅنګ د طالبانو پرخلاف جنګېږي، که څه هم افغان حکومت ددغه کار هرکلی کړی، خو د پوځي چارو شنونکي دا کار ملیشه جوړول بولي او د پایلو په اړه یې خبرداری ورکوي.

د پوځي چارو کارپوهان وايي، که دولت دغه ولسي پاڅون وال سم مدیریت نه کړي او دا وګړي د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو په چوکاټ کې تنظیم نه شي بنایي په هېواد کې یو بل ناورین رامنځته شي، ځکه هغه وسلې چې د میلیونونه ډالرو په لګولو د ډي ډي آر او یو شمیر نورو پروګرامونو په چوکاټ کې له نامسووله وسله والو راټولې شوې یو ځل بیا خلکو ته ورکول کېږي. نو بایده دي چې افغان دولت په اوسنیو حساسو شرایطو کې دغه خوځښتونه په جدي توګه وڅاري او پرې نه ږدي چې دا ځواکونه له کنټروله بهر شي چې خدای مه کړه بیا به یې کابو کول ګران او آن ناشوني وي.

دولت ته په کار ده چې د پوځي هڅو ترڅنګ تر ډېره د هېواد د اوسنیو ستونزو د سیاسي حل لارې په لټه کې شي او د دې لپاره لومړۍ د ننه په هېواد کې او بیا د سیمې په کچه یوه اجماع رامنځته کړي. د سولې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره هڅې وکړي. طالبان هم باید د جګړې پرځای د خبرو لاره غوره کړي، د تاوتریخوالي په پای ته رسولو سره اوربند ته لاره اواره کړي او جدي خبرو ته مخه کړي.

# لیکلړ

● د بشري حقونو کمېسیون د جنایتونو د څېړلو غوښتنه وکړه ........ ۱
● له بایډن سره د غني او عبدالله لیدنه؛ امریکا له افغانستانه... ........ ۲
● امریکا له افغان ځواکونو سره د ۴۵ چورلکو او اوو جنګي الوتکو مرسته کوي ........ ۳
● د افغانستان او امریکا د اړیکو نوی پړاو ........ ٤
● په افغانستان کې د تاوتریخوالي دوام او د نړیوالو مسوولیت ........ ٦
● د پاکستان د کورنیو چارو وزیر: د طالب مشرانو کورنۍ په پاکستان... ........ ۷
● دفاع وزارت د ولسي پاڅون کوونکو د سالم مدیریت ډاډ ورکوي ........ ۸
● ۸۰ تنه افغان ژباړونکي استرالیا ته ولېږدول شول ........ ۹
● لنډۍ ........ ۱۰
● مریدنامه ۳۰ ........ ۱۱
● په ننګرهار کې د مطالعې فرهنګ دودولو نوې هڅه ........ ۱۲
● برېښنا شرکت یو ځل بیا له امنیتي بنسټونو او خلکو وغوښتل چې... ........ ۱۳
● روغتیا وزارت: د کورونا ویروس دلتا ډول په چټکۍ د خپرېدو په حال... ........ ۱٤
● د ننګرهار په زندان کې د روږدو د درملنې لس بستریز روغتون پرانیستل شو ........ ۱٥
● په هلمند کې به سږکال ۹۵زره ټنه انګور ترلاسه شي ........ ۱٦
● د لغمان په الینګار کې د جګړې پرمهال هټۍ سوځېدلې دي ........ ۱۷
● د قومي تعصب پای ........ ۱۸
● ټوېټر چا او ولې جوړ کړ؟ ........ ۱۹
● له استرالیا او ویسټ انډیز سره د افغان کرېکټ ملي لوبډلې نوې... ........ ۲۰

د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: م. ظ. صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب
زمان سهیل او نیاز الله اصیل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د بشري حقونو کمېسیون د جنایتونو د څېړلو غوښتنه وکړه

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د بشـري حقـونو خپلـواک کمېسـیون د یـوه نړیـوال حقیقت موندونکـي پـلاوي لـه خـوا پـه افغانسـتان کـې د بشـریت خـلاف جنایتونـو د څېړلـو غوښـتنه کـړې ده.

دغـه کمېسـیون غوښـتنه کـړې چـې د ملګروملتونـو سـازمان لـه خـوا حقیقت موندونکـی پـلاوی افغانسـتان تـه راولېـږل شـي او افغـان دولـت دې هـم د پـلاوي د ګمارلـو او پلټنـو په هکله ورسـره همـکاري وکـړي.

د بشري حقـونو خپلـواک کمېسـیون د چنګاښ په شـپږمه نېټه د خپلـو دوو کارکوونکـو د تـرور د تلیـن لـه امله یـوه اعلامیـه کـې دا غوښـتنه مطرح کـړې ده.

دغـه بنسـټ وایـي چې تراوسـه د تورنـو د موندلو او عدالـت د پلي کولـو پـه اړه د نومـوړي کمېسـیون غوښـتنو ته د قناعـت وړ ځواب نه دی ورکړ شـوی. د بشـري حقونو خپلواک کمېسـیون د رسـنیو د کارکوونکـو، مدنـي فعالینـو او د بشـري حقونو د دفـاع کوونکو د هدفـي وژنـو په اړه د مسـوولو بنسـټونو له خوا د څېړنو غوښـتنو ته پـر بي پامـۍ خواشـیني ښـکاره کـړې ده. ...

دغـه کمېسـیون ټینـګار کړی چـې حکومـت باید ځـواب ویوونکی وي او لـه سـزا لـه معافیـت سـره جـدي مبـارزه وکـړي ترڅـو د ټولو حقونـه خوندي شـي.

د بشـري حقـونو خپلـواک کمېسـیون ویلـي چـې د ملکـي وګړو پر خـلاف د جنایتونـو، هدفـي وژنـو او پـر قومـي او مذهبـي لړکیـو او ښـوونیزو بنسـټونو د بریدونـو پـه اړه د پلټنـو په موخه د یـوه نړیوال حقیقـت موندونکي پـلاوي غوښـتنه کـوي.

لـه بلـې خـوا، پـه کابـل کـې د امریکا سـفارت د طالبانو لـه خوا د عامـه تاسیسـاتو ویجـاړول زړه بوږنوونکـی عمـل بللـی دی.

پـه کابـل کـې د امریکا د سـفارت سرپرسـت د فاریاب پـه اندخوی ولسـوالۍ کـې د طالبانـو لـه خـوا د هټیـو او دولتـي تاسیسـاتو د سـوځولو پـه اړه خپـاره شـوي رپوټونـه د اندېښـنې وړ بللـي دي.

راس ویلسـن د چنګاښ پـه شـپږمه نېټـه پـه خپلـه ټویټـر پاڼـه لیکلـي چـې د هټیـو، دولتـي ودانیـو او مخابراتـي وسـایلو ورانـول او د خلکـو نیـول بشـري حقونـو تـه د دې ډلې د بې پامۍ ښـودنه کوي .

د رپوټونـو لـه مخـې، افغـان ځواکونـو د چنـګاښ پـه څلورمـه نېټه اندخـوی ولسـوالي ونیولـه، خـو طالبانـو د شـپې مهال یـو ځل بیا پـر دغـه ولسـوالۍ برید وکړ او کابـو اویا هټیـو ته یـې اور ورته کړ.

پـه داسـې حـال کې چې طالبـان ادعا کوي، تر خپـل واک لاندې سـیمو کې د عامه تاسیسـاتو سـاتنه کـوي، خو په ځینـو تصویرونو کـې د دغـې ډلـې د جنګیالیـو له خوا د عامه تاسیسـاتو ویجاړول ښـودل شوي دي.




۱
۸صبح پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۴۷ مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۱۲ مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

# له بایډن سره د غني او عبدالله لیدنه؛ امریکا له افغانستانه د ملاتړ ژمنه تازه کړه



◆ د ۸صبح پښتو مجله

ولسمشر محمد اشرف غني او د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئیس عبدالله عبدالله او مل پلاوي یې د چنګاښ په څلورمه نېټه په سپینه ماڼۍ کې د امریکا له ولسمشر جو بایډن سره وکتل.

د امریکا ولسمشر په دې لیدنه کې اعلان وکړ چې د پروګرام له مخې، امریکايي ځواکونه له افغانستانه وځي، خو هېواده د امریکا ملاتړ دوام لري.

ولسمشر غني هم په دې لیدنه کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه د بایډن پرېکړه تاریخي بللې او ټینګار یې کړی چې دغه تصمیم ته درناوی لري او ترې ملاتړ کوي.

د سپینې ماڼۍ د اعلان پربنسټ، بایډن په دې لیدنه کې د افغان ښځو، نجونو او لږکیو په ګډون د افغانستان له خلکو د امریکا پر دوامداره ملاتړ او ملکي، پرمختیایي او بشردوستانه مرستو پر دوام ټینګار کړی دی.

د امریکا ولسمشر همداراز ژمنه کړې چې له افغان امنیتي ځواکونو سره به د امریکا مرستې دوام وکړي.

بایډن په دې لیدنه کې ټینګار کړی چې د افغانستان مشران باید په هېواد کې د سولې او ثبات په اړه یو نظر ولري او هوکړې ته ورسېږي. جو بایډن ویلي چې څه هم امریکايي سرتېري افغانستان پرېږدي، خو دوامداره او دوه اړخیزه ملتیا او مشارکت به دوام ومومي.

په ورته وخت کې د امریکا د لږکیو برخې مشر میچ مکانل هغه وراندیز چې له بایډن څخه یې غوښتې ؤ، د ځواکونو د وتلو بهیر وځنډوي، ونه منل شو. میچ مکانل دغه وړاندیز له غني او عبدالله سره په لیدنه کې مطرح کړی ؤ.

بایډن همدرانګه ټینګار کړی چې د افغانستان او امریکا همکاري پایته نه رسېږي او دوام به ومومي.

هغه زیاته کړه، امریکايي سرتېري له افغانستانه وځي، خو له افغان پوځ سره د مرستې او اقتصادي او سیاسي ملاتړ په برخو کې به له افغانستانه د امریکا ملاتړ پایته نه رسېږي.

د امریکا ولسمشر جو بایډن زیاته کړه چې افغانان باید په خپله د خپلې راتلونکې په اړه تصمیم ونیسي، خو امریکا به همکارۍ ته دوام ورکوي. بایډن همدرانګه د «بې ګټې» تاوتریخوالي په زرتزرزه بندېدو ټینګار کړی دی.

له بلې خوا، ولسمشر غني هم له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه د بایډن پرېکړه تاریخي بللې ده.

د ولسمشر غني په وینا، امریکا او افغانستان د اړیکو نوی باب پرانیستی نوي او دغه تصمیم ته درناوی لري او ترې ملاتړ کوي.

د سپینې ماڼۍ لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې امریکا د سوله ییز او باثباته افغانستان لپاره له ډیپلوماتیکو لارو اقتصادي همکاریو او مرستو ته دوام ورکوي.

په خبرپاڼه کې راغلي، دا چې افغانستان بیاځلې د ترهګرو په پټنځای بدل نه شي، نو له افغانستان سره به د امریکا همکاري او ملاتړ روان وي.

سپینې ماڼۍ په افغانستان کې د ثبات، اقتصادي ودې، د ښځو او لږکیو په ګډون د تېرو ۲۰ کلونو د لاسته راوړنو پر خوندیتوب ټینګار کړی دی. د سپینې ماڼۍ د اعلان له مخې، امریکا له ۲۰۰۲ کال راهیسې له افغانستان سره د امنیت په برخه کې ۸۸ میلیارد ډالر، په ملکي برخه کې ۳۶ میلیارد ډالر، د ښځو او نجونو په برخه کې ۷۸۷ میلیونه ډالر او کابو ۳.۹ میلیون ډالره بشردوستانه مرستې کړې دي.

جو بایډن له غني او عبدالله سره په لیدنه کې همداراز له افغانستان سره د امریکا د درې میلیونه ډوزه د کورونا واکسین د مرستې یادونه هم وکړه. هغه همدارنګه په دې برخه کې د لا زیاتو همکاریو ژمنه کړې ده.

ولسمشر محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله د چنګاښ په دوهمه امریکا ته ولاړل. دوی په دې سفر کې د امریکا له دفاع وزیر، سناتورانو، د ملي امنیت له سلاکار، د امریکا له سیاسي څېرو، د امریکايي سرتېرو د قربانیانو له کورنیو او د سنا جرګې له مشرې سره وکتل.

# امریکا

## له افغان ځواکونو سره د ۴۵ چورلکو او اوو جنګي الوتکو مرسته کوي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د دفاعي او امنيتي ځواکونو ويانـد اعلان وکړ چې امريکا افغانسـتان تـه ۴۵ ډول ډول چورلکې او او اوه اې ۲۹ ډوله جنګي الوتکې ورکوي.

د امنيتـي بنسـټونو عمومـي ويانـد اجمـل عمر شـينواري د چنګاښ په اتمـه نېټـه پـه خبـري ناسـته کـې وويـل چـې واشـنګټن ته د ولسمشـر غنـي پـه سـفر کـې امريکا ژمنـه کړې چـې لـه افغان ځواکونو سره د ۴۵ چورلکـو او اوو اې ۲۹ ډولـه الوتکـو مرسـته کـوي.

شـينواري زياتـه کـړې چـې امريکا تـه د ولسمشـر سـفر د امنيتـي ځواکونـو لپـاره لـه لاس تـه راوړنـو ډک و.

د امنيتـي بنسـټونو عمومـي ويانـد وايـي چـې لـه افغـان امنيتـي او دفاعـي ځواکونـو د امريکا او ناټـو سـازمان ملاتـړ د پخوا په شـان دوام کـوي.

هغـه زياتـه کـړه چـې پـه دغـه سـفر کـې امريکا لـه افغان ځواکونـو د اکمالاتـي او روزنيـز ملاتـړ د دوام ژمنـه وکـړه.

اجمـل عمـر شـينواري وايـي، د هغـې هوکـړې لـه مخـې چـې د کابـل او واشـنګټن ترمنـځ شـوې د افغانسـتان د ملـي امنيت شـورا او امريکا ترمنـځ د همکارۍ باب پرانيسـتل شـوی دی.

ولسمشـر محمـد اشـرف غنـي او د ملـي روغـې جـوړې د عالـي شـورا رييـس عبدالله عبدالله لـه يـوه پـلاوي سـره د چنګاښ پـه دوهمه د دوه ورځنـي سـفر پـه موخـه امريکا تـه ولاړل.

عبدالله عبدالله له دغه سـفره وروسـته وويـل چې امريکايي چارواکو پـه تېـره بيـا ولسمشـر بايـډن، د دغه هېـواد دفاع وزير، د ملـي امنيت سـلاکار، د کانګـرس او سـنا جرګـې غـړو د سـولې لـه بهيـر، لـه افغان امنيتـي او دفاعـي ځواکونـو پـر ملاتـړ او لـه مذاکراتـو په ملاتـړ کې پر سـيمه ييـزې اجماع ټينـګار وکـړ.

د ښـاغلي عبدالله پـه وينـا، د سـولې او لـه افغـان ځواکونـو د ملاتـړ او دغـو ځواکونـو د تمويـل او مرسـتې پـه هکلـه د امريکايـي چارواکـو پيغـام روښـانه و او دوی لـه افغان ځواکونـو سـره د ۳،۳ ميليارد ډالرو مرسـتې او لـه افغانسـتان سـره د ۳۵۰ ميليـون ډالـرو بشردوسـتانه مرسـتو ژمنـو وکـړه.

### د کورنيو چارو سرپرست وزير:

## طالبان په سويل کې پاکستان ته د پوځي وسايلو د لېږد زمينه برابروي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د کورنيـو چـارو وزارت سرپرسـت وايـي چـې طالبـان تـر خپـل کنټرول لانـدې سـيمو کـې عامـه تاسيسـات ويجـاړوي او همـداراز د هېـواد پـه سـويل کـې د هغـو ولسـواليو لـه لارې چـې دوی يې نيسـي پاکسـتان تـه د پوځـي وسـايلو د لېـږد زمينـه برابروي.

د کورنيـو چـارو وزارت سرپرسـت عبدالسـتار ميرزکـوال د پکتيـا ولايت د وضعيـت د ارزونـې پـه موخـه دې ولايـت تـه سـفر درلـود. هغـه د چنـګاښ پـه پينځمـه نېټـه د پوليسـو ځانګـړو ځواکونـو تـه وينـا وکـړه.

ميرزکـوال وويـل چـې طالبانـو تر خپل واک لانـدې سـيمو کـې په کړنو سـره دا ښـودلې چـې دوی پرتـه لـه ويجاړۍ بل څه نـه دي کړي.

د کورنيـو چـارو وزارت سرپرسـت زياتـه کـړه، د طالبانو ډله د ولسـواليو پـه نيولـو سـره ملـي شـتمنۍ لـه منځـه وړي او عامه تاسيسـات ويجـاړوي او همـداراز تـر واک لانـدې سـيمو کـې د عامـه خدمتونـو د وړانـدې کولـو مخنيـوی کـوي.

هغـه زياتـه کـړه، طالبـان د هېـواد پـه سـويل کـې د هغـو ولسـواليو له لارې چـې دوی يې نيسـي پاکسـتان تـه د پوځـي وسـايلو د لېږد زمينه برابروي.

اخـوا، د طالبانـو ويانـد ذبيـح الله مجاهـد بيـا د کورنيـو چـارو د سرپرسـت وزير څرګندونـې ردوي. مجاهـد وويـل چـې دوی د جګـړې لپـاره تجهيزاتـو تـه اړتيا لري. د هغه په وينا، د افغانسـتان او پاکسـتان د حکومتونـو ترمنـځ د هوکـړې له مخـې په پوله کې اغزن تارونه لګول شـوي او د پوځـي وسـايلو د لېـږد امکان نشـته.

طالبانـو پـه مـې مياشـت کـې د سـويل او ختيـځ ولايتونـو پـه ګـډون د هېـواد پـه څـو ولايتونـو کـې يو شـمېر ولسـوالۍ نيولـې دي.

ځينـې ولسـوالۍ پرتـه لـه جګـړې د طالبانـو لاس تـه لوېدلـې دي. طالبانـو ادعـا کـړې پـه دغـو ولسـواليو کـې يـې زيـات شـمېر پوځـي وسـايلو او وسـلې ترلاسـه کـړې دي.

# د افغانستان او امریکا د اړیکو نوی پړاو

◆ لیکوال: شاه‌حسین مرتضوي
◆ ژباړن: م. ع. پ

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو نوی باب پرانیستل شي. په دغه اساسي پړاو کې امریکا ته د ولسمشر غني او مل پلاوي سفر یې ځانگړې ارزښت لري.

دغه سفر ځیني پیغامونه له ځان سره لرل، چې په لاندې ډول یې په لنډه توگه یې د ځینو یادونه کولای شو:

**سیاسي اهمیت**

د دواړو هېوادونو ترمنځ تلپاتي او تعریف شوې سیاسي اړیکې او په ډیپلوماتیکو برخو کې فعالې همکارۍ د افغانستان لپاره مهمې دي. افغانستان اوس د نړیوالې ټولنې د فعال غړي او شریک په توگه خپل ځان ثرگند کړی، چې په دې برخه کې له امریکا سره فعالې او تلپاتې اړیکې ځانگړې اهمیت لري. افغانستان تمه لري چې په سیمه کې د امریکا له فعالو او ډیپلوماتیکو ظرفیتونو د سولې او ثبات په گټه کار واخیستل شي. **امریکا کولای شي پر هغو هېوادونو چې د افغانستان په تړاو منفي تگلاره لري له خپل لوی فشاره کار واخلي او له هغوی د سیمې د ثبات لپاره گټه پورته کړي.** همدا‌راز امریکا د پخوا په پرتله اوس د افغانستان د خلکو او دولت هغه اندېښنه هم درک کړې چې ځیني هېوادونه اوس هم د افغانستان په اړه منفي تگلاره لري. د سیمې په سیاستونو کې د امریکا ملاتړ او همکاري، د سولې او ثبات خواته شرایط راوگرځولی شي. اوس د کلونو په تېرېدو سره د ځینو هېوادونو له خېرو نقابونه لرې شوي او دا ثرگنده شوې چې دوی له ترهگرۍ او ترهگریزو ډلو ملاتړ کاوه او د دوی د مشرانو اصلي څېرې هم ټولو ته بربنډې شوې دي. هغه هېوادونه چې اوس هم د افراطیت او ترهگرۍ ملاتړې دي، د نړۍ نور هېوادونه د دوی په وړاندې مهم مسؤلیت ادا کولای شي. په دې ډله کې به د امریکا رول برخلیک ټاکونکی او اغېزناک وي.

**اقتصادي اهمیت**

امریکا له ۲۰۰۱ کال راهیسې په پرمختیایي او بنسټیزو برخو کې ډېرې بشردوستانه مرستې کړې دي. دغه مرستې په ډېرو برخو کې د بدلون لامل شوې دي. افغانستان د جگړو کلونو پر مهال خپل ډېرې بنسټیزې برخې له لاسه ورکړې دي. اوسنۍ روانې جگړې هم له بده مرغه د هېواد بنسټیزو برخو ته ډېر زیانونه اړولي دي. د طالبانو له لوري ویجاړوونکو گامونو د هېواد بنسټیزو جوړښتونو ته څه باندې یو میلیارد ډالره زیان اړولی دی. اوس هم د شتمنیو او اموالو لوټل او ویجاړول د طالبانو لخوا په جگړه کې یو مهم اوزار گڼل کېږي. دې ټولو موضوعاتو ته په کتو د امریکا د مرستو دوام



افغانستان بیاځلې رغولی او بنسټیز جوړښتونه یې فعالولی شي. امریکایي چارواکو او د ښاغلي بایډن ډلې د مسؤلیت اخیستو له پیله تر دې دمه په پراختیایي او ودانیزو برخو کې د همکاریو په اړه خبرې کړې دي. اوس تمه ده چې دغه ژمنې عملي او اجرایي بڼه غوره کړي.

**امنیتي اهمیت**

دغه سفر له امنیتي اړخه هم له ځانگړي اهمیته برخمن ؤ. د ولسمشر غني سفر دقیقا داسې مهال ترسره شو چې له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو بهیر هم دوام لري. له بله پلوه د هېواد په بېلابېلو سیمو کې هم په بې مخینې توگه جگړې زور اخیستی دی. له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د امریکا د ملاتړ دوام هم د دې سفر د بحث وړ موضوع وه. د امریکا ولسمشر له محمد اشرف غني سره په لیدنه کې د سیاسي، اقتصادي او امنیتي ملاتړ پر دوام ټینگار کړی دی. اوس د افغانستان امنیتي او دفاعي ځواکونه د ترهگرو پر وړاندې د جگړې اصلي بار پر اوږ وړي. خو د ملگرو هېوادونو او په ځانگړي ډول د امریکا ملاتړ په بېلابېلو برخو کې مهم او ارزښت لرونکی کېدای شي. په دې برخه کې مهم او اساسي ټکی د لېږد بهیر د مسؤلیت پرمهال د تشو او زیانونو ارزول او په گوته کول دي. په ځینو ولسوالیو کې د طالبانو بریاوې په همدغو نیمگړتیاوو کې ریښې لري.

**له ترهگرۍ سره مبارزه**

له ۲۰۰۱ کال راهیسې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د حضور اصلي موخه له ترهگرۍ سره مبارزه گڼل شوې وه. که څه هم امریکا د پاکستان په خاوره کې د بن لادن په وژلو او له ایرانه د ملا اختر محمد منصور د وتلو پرمهال د هغه په نښه کولو سره ځینې لاسته روانې لرلې دي؛ خو اوس هم په افغانستان کې د دغو



امریکایي چارواکو او د شاغلي بایډن ډلې د مسؤلیت اخیستو له پیله تر دې دمه په پراختیایي او ودانیزو برخو کې د همکاریو په اړه خبرې کړې دي. اوس تمه ده چې دغه ژمنې عملي او اجرایي بڼه غوره کړي.

ډلو ربښې فعالې دي.

اوس اصلي بحث دا دی چې د ترهګرو ډلو پرخلاف د مبارزې دوام چې د طالبانو تر سیوري لاندې یې پناه اخیستې، د کومې کړنلارې او میکانیزم له لارې یې عملي بڼه شونې ده؟ د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به د امریکا او د ناټو د غړیو هېوادونو رول په دې مبارزه کې څنګه وي؟ که ګواښونه د سیمې او له سیمې هاخوا هېوادونو ته متوجه وي، نو څه ډول یې باید پر وړاندې مبارزه وشي؟

د امریکایي او ناټو غړیو هېوادونو د ځواکونو له وتلو وروسته له ترهګرۍ سره مبارزه د دواړو هېوادونو ترمنځ یو مهم او بنسټیز بحث دی. افغانستان په دې مبارزه کې خپله فعاله برخه لري؛ خو تمه لري چې د نړیوالې ترهګرۍ پر وړاندې نور هېوادونه هم فعاله ونډه ولري. له دغو موضوعاتو یوه مهمه موضوع له ترهګرو ډلو ملاتړې کړې دي. طالبان او نورې ډلې له افغانستانه بهر له دولتي ملاتړه پرته د جګړې د دوام وس نه لري. له هغو هېوادونو سره باید مقابله وشي چې له ترهګرۍ د سیاسي اوزار په توګه کار اخلي. له ترهګرۍ د ځینو دولتونو د ملاتړ پر وړاندې باید جدي چلند وشي.

**د سولې برخلیک**

د امریکا او طالبانو ترمنځ د تړون له لاسلیکېدو وروسته، هیلې ډېرې وې چې ګواکې مثبتې خبرې اترې به پیل شي او همداراز به په تاوتریخوالي کې به کموالی راشي. طالبانو ژمنه کړې وه چې تاوتریخوالی به دروي، له القاعده ډلې سره به اړیکې پرې کوي او له افغان حکومت سره به مثبتې او رغنده خبرې اترې پیلوي؛ خو له بده مرغه دوی په خپلې یوې ژمنې هم عمل ونه کړ. د شاغلي ټرمپ د واکمنۍ پر مهال له طالبانو سره د امریکا هوکړې او تړون دې ډلې ته مشروعیت ورکړ. همداراز طالبان په کاذب غرور سره دې ته چمتو نه شول چې له افغان حکومت سره جوړوونکې خبرې اترې وکړي. طالبانو اوس جګړې ته زور ورکړی دی. هغوی اوس

د هر وخت په پرتله ډېر کرکجن عمل کوي. اوس اصلي بحث د سولې بهیر برخلیک دی چې امریکا په دې برخه کې له فعالو هېوادونو څخه دی. اوس د دې وخت رارسېدلی چې د بېلابېلو هېوادونو له لوري له طالبانو سره په اړیکو کې بیاکتنه وشي. کوم معافیتونه او فرصتونه چې طالبانو ترلاسه کړي ؤ، باید ودرول شي. همداراز ښایي چې د قطر دفتر د دوام او د مدیریت څرنګوالي په اړه تول اړخیز بحث وشي. طالبان په هغه تاوتریخوالي سره چې ترسره کوي یې باید مشران یې په بېلابېلو هېوادونو کې د معافیت او مصونیت احساس ونه کړي.

**ملي یووالی**

د طالبانو وروستي تاوتریخوالي د هېواد په ګوټ ګوټ کې د خلکو له خوځښتونو سره مخ شوی دی. ښایي طالبان لومړی ځل له دا ډول خوځښتونو سره مخ شوي وي. په تېرو وختونو کې هم د دې ډلې پر وړاندې ځینې مقاومتونه شوي ؤ؛ خو په دې اندازه کړکه او مقاومت نندارې ته نه ؤ وړاندې شوی.

له نظامه د ملاتړ په پار خودجوشه خوځښتونه طالبانو ته د جمهوریت اصلیت، د تېرو شلو کلونو د لاسته راوړنو ساتنې او ځانګړي پیغامونه لري. د سیمې او له سیمې هاخوا هېوادونه به هم دغه خوځښتونه په پرېکنده ډول وڅاري. **افغان حکومت سره له دې چې ننګونې او ستونزې لري خو اوسمهال د وګړو له ټولیز ملاتړه برخمن دی او وګړي د جمهوریت او نظام په ملاتړ راپاڅېدلي دي.**

له افغانستانه بهر هم د نړۍ هېوادونو د زور او تاوتریخوالي له لارې د واک له ترلاسه کولو سره مخالفت ښودلی دی. اوس داسې ښکاري چې طالبان به له هر وخته زیات د سیاسي انزوا په لور لاړ شي. **افغانستان سختې ورځې تېروي؛ خو ملي یووالی او د هېواد د سیاستوالو ترمنځ اجماع د نظام په بقا کې مهم او اغېزناک رول لوبولای شي.** افغانستان به اوس د نړۍ د هېوادونو او په ځانګړې ډول امریکا او د ناټو له غړو هېوادونو سره د خپلو اړیکو نوی باب پرانیزي. د سیمې په کچه به هم د تعامل او همکاریو څرنګوالی تر بحث لاندې وي. په اوسني وخت کې له افغانستانه د نړۍ ملاتړ ځانګړې اهمیت لري. په دې برخه کې د امریکا او افغانستان ترمنځ دوامداره ملګرتیا مهمه ده.

# په افغانستان کې د تاوتریخوالي دوام او د نړیوالو مسوولیت



◆ لیکنه: حبیب حمید زاده
◆ ژباړه: م. ظ. صمیم

امریکا تـه د افغـان دولت د مشـرانو پـه سفر کـې، ولسمشـر بایـډن یـو ځـل بیـا ټینـګار کـړی چـې امریکایـي ځـواکونـه لـه افغانسـتانه وځـي. هغـه جوتـه کـړې چـې دا د افغـان مشـرانو او د افغانسـتان د خلکـو مسـوولیت دی چـې د خپل نن او سبا په اړه د خبـرو لـه لارې هوکـړې تـه ورسـېږي. بایډن افغان مشـرانو تـه وویـل چـې اوسـنۍ جګـړه او وینـې توییـدل بـې معنـا دي. ددغـو ځرګندونـو پـه اړه افغـان چارواکـو او طالبانـو څـه نـه دي ویلـي او د حکومـت پـه سیاسـت او د طالبانـو پـه جګـړه کـې د بدلـون هېـڅ ځـرک نشـته. پـه همـاغـه کچـه چې طالبـان جګـړې تـه دوام ورکـوي، پـه همـاغـه انـدازه حکومـت د ملـي ګامونـو پـه پورتـه کولـو کـې وروسـته پاتې دی او تراوسـه د جوړجاړي نښـې نـه لیـدل کېږي.

اوس چـې امریکا د افغانسـتان له جګړې پښـې سـپکوي او هره ورځ بیابیـا تکـراروي چـې د سـتونزو پـای تـه رسـول د افغانانو مسـوولیت دی. لـه افغانسـتانه د وتلـو لپـاره د امریکا کلک هوډ ددې لامـل شـوی چـې د ناټـو غړي هېوادونـه هم د افغانسـتان پـه هکلـه پـر خپلـو پروګرامونـو بیـا کتنـه وکـړي. د امریکا ځینې متحدینـو لـه وړانـدې خپل سـفارتونه تړلي او داسـې ګونګوسـې دي چـې یـو شـمېر هېوادونـه پـه کابـل کـې د خپلـو سـفارتونو د تړلـو پـه لټـه کـې دي. دا پـه دې مانـا دي چـې د افغانسـتان راتلونکـی د ډاډ وړ نـه دی او د خونړیو ورځـو اټکل کېږي. ښـایي د امریـکا نـور متحدیـن دې پایلـې تـه رسـېدلي وي چـې طالبانو ډلـه غـواړي د جګـړې لـه لارې ښـارونه ونیسـي او واکمنـۍ تـه ورسـېږي او لـه همـدې امله یې د سفر موزې په پښـو کړې دي. د وروسـتیو ورځـو پېښـو دا اټـکل لازیات کـړی دی.

حکومتـي چارواکـي او هېـوادوال بایـد دې تـه پـام وکـړي چـې اوس افغانسـتان یـوازې پرېښـودل شـوی دی. نـور بـه د جګـړې پـه ډګرونـو کـې لـه افغانسـتان سـره د نـړۍ همکـارۍ نـه وي، بلکې د جګړې مسـوولیت افغان ځواکونو ته سـپارل شـوی دی.

اوسـنۍ جګـړه نـور لـه ترهګـرۍ سـره د نـړۍ جګـړه نـه؛ بلکې د طالبانـو او افغـان دولـت ترمنـځ جګـړه ده. پـه اوسـني وخـت کـې بـه هېـڅ هېـواد پـه دغـه جګـړه کـې لـه افغـان ځـواکونـو د ملاتـړ لپـاره ونـه‌ډه و نـه لـري. افغان ځـواکونـه د طالبانـو پرخلاف جنګېـږي ترڅـو د ښـارونو او ولسـوالیو د سـقوط مخـه ونیسـي. جګـړه د هـرې ورځـې پـه تېرېدو سـره پراخېږي؛ د هرې ولسـوالۍ او سـیمې پـه سـقوط سـره لـه دواړو لوریـو زیـات شـمېر وګـړو تـه مـرګ ژوبلـه اوړي. دولت او طالبانو تراوسـه جدي خبرې نه دي پیـل کـړې؛ خـو د جګـړې پـه ډګرونـو کـې خپـل زورآزمویـي او د سـیمو د ترلاسـه کولو هڅې کوي. که نړۍ د افغانسـتان مسلې تـه پـه مسـووولانه توګـه پـام ونـه کـړي، ښـایي نسـل وژنـه وشـي، کـور پـه کـور جګـړه پیـل او کورنـۍ جګـړه یـو ځل بیا تجربه شـي چـې ددغـه راز وضعیـت مدیریـت او کنټرول به بې له شـکه چې ډېر ګـران وي.

د طالبانـو مخینـې تـه پـه کتنـو سـره ښـایي چـې دا ډلـه د افغانسـتان پـر یـو شـمېر سـیمو پـه واکمنېـدو، پـر خلکـو خپـل سـخت قوانیـن پلـي کـړي. هغه ارزښـتونه چې نړۍ یې په تېرو شـلو کلونـو کـې پـه افغانسـتان کـې د عملـي کېـدو پـه لټـه کې وه، د لـه منځـه تلـو پـه حـال کـې دي. طالبانـو پـه مذاکراتـو، ټولنیـزو شـبکو او مرکـو کـې ویلـي چـې دېموکراسـي کفـري او لوېدیـځ ارزښـت دی او د هغـوی لپـاره د منلـو وړ نـه ده، دوی د ښـځو لـه کار کولـو او ټاکنـو سـره مخالفت ښـودلی، د بیان آزادي، بشـري حقونـه او د تېـرو شـلو کلونـو نـور ارزښـتونه چې پانګونـه پـرې شـوې د لـه منځـه تلـو پـه حـال کـې دي.

اوس نـړۍ ولـې پـه افغانسـتان کـې د جګـړو، تاوتریخوالـي او د ارزښـتونو د لـه منځـه تلـو کتونکـې ده؟ بایده دې چـې نړیوال د افغانسـتان روان وضعیـت تـه جـدي پـام وکـړي او پـرې نـه ږدي چـې جګـړې او تاوتریخوالي نـور دوام وکـړي، بایـد د خبرواترو له لارې سـتونزو تـه د حـل لاره ولټـول شـي.

## د پاکستان د کورنیو چارو وزیر:

# د طالب مشرانو کورنۍ په پاکستان کې اوسېږي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

په وروستیو ورځو کې د اسلام آباد او کابل ترمنځ لفظي شخړې زیاتې شوې دي. په تازه مورد کې بیا د یوه پاکستاني چارواکي اعتراف د کابل له خوا ستایل شوی دی.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر شیخ رشید احمد، په یوه تلویزیوني مرکه کې ویلي چې د طالب مشرانو کورنۍ په پاکستان کې اوسېږي او ددغې ډلې د ټپیانو درملنه د نوموړي هېواد په روغتونونو کې کېږي.

شیخ رشید احمد له جیونیوز سره په مرکه کې ویلي چې د طالبانو ډلې د مشرانو کورنۍ د پاکستان په میراواد، لوی میر، باراکو او ترنول سیمو کې دي.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر په افغانستان کې اوږدې جګړې ته په اشارې سره ویلي د پاکستان لومړی وزیر عمران خان د افغانستان د ستونزې د اوارې لپاره یوه نړیواله تګلاره وړاندې کړې ده. هغه همداراز زیاته کړې چې امریکا په افغانستان کې په خپل شل کلن حضور سره آن یوه د ګوګړو فابریکه هم نه ده جوړه کړې او یوازې د جګړې د دوام لامل شوې ده.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر دا تور چې طالبان او اسامه بن لادن په پاکستان کې پټ وو رد کړ او وې ویل: ښايي هر ډول تور ولګول شي.

شیخ رشید احمد له طالبانو غوښتي چې د پاکستاني طالبانو تحریک ته د افغانستان له خاورې ددغه هېواد پرخلاف د عملیاتو اجازه ورنه کړي. د نوموړي په وینا، هماغه شان چې پاکستان هڅه کوي چې افغانستان امن وي، د طالبانو ډله هم باید د پاکستاني طالبانو تحریک ته له افغانستانه ددغه هېواد پرخلاف د عملیاتو اجازه ورنه کړي.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر همداراز ویلي چې تر یوې میاشتې پورې له افغانستان سره د دغه هېواد په پولو کې د اغزن تار بهیر بشپړېږي. اخوا، د طالبانو ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد له ۸صبح ورځپاڼې سره په خبرو کې د شیخ رشید احمد خبرې رد کړې دي.

د هغه په وینا په هېواد کې پراخه جګړه روانه ده او په پاکستان کې د دوی د مشرانو او مسوولینو اوسېدل حقیقت نه لري، ځکه جګړه مشرې او د مسوولینو شته والی غواړي. هغه زیاته کړې چې افغان کډوال په پاکستان کې اوسېږي او ښايي په دوی کې د طالبانو پلویان هم وي.

د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر دا څرګندونې د افغان چارواکو له غبرګون سره مخامخ شوې دي. د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب د چنګاښ په اوومه نېټه ویلي چې له طالبانو د اسلام آباد د ملاتړ د افشا کولو له امله د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر ستاینه کوي. محب زیاته کړې چې لانورو دغه ډول پاکستانیانو ته اړتیا لرو چې پر افغانستان د پاکستان د کړنو په اړه خبرې وکړي. د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر ځینې څرګندونې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له غبرګون سره مخامخ شوې دي.

د هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د پاکستاني طالبانو تحریک په هېڅ ډول په افغانستان کې فعالیت نه لري.

دغه وزارت زیاته کړې چې د پاکستاني طالبانو تحریک د ملي امنیت د سیاست له مخې، د نورو ترهګرو ډلو ترڅنګ په افغانستان او سیمه کې د سولې، ثبات او سوکالۍ مخالف پېژندل شوی او افغان دولت له دې ډلې سره د نورو ترهګرو ډلو په شان له تو پیر پرته مبارزه کوي. که څه هم په قطر کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو خبره کېږي خو په دې وروستیو کې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې جګړې زور اخیستی دی.

# دفاع وزارت د ولسي پاڅون کوونکو د سالم مدیریت ډاډ ورکوي

◆ راپور: حسین حیدري
◆ ژباړه: م. ع. پ

د طالبانو له خوا د يو شمېر ولسواليو سقوط او د امنيتي ځواكونو او طالبانو ترمنځ د ځينو ولسواليو لاس په لاس كېدل د دې لامل شوي چې زرګونه ولسي پاڅونوال په بېلابېلو ولايتونو كې د امنيتي ځواكونو ترڅنګ ودرېږي او له خپلو سيمو ساتنه وكړي.

په ورته وخت كې ملي دفاع وزارت يو ځل بيا له خلكو وغوښتل چې له امنيتي ځواكونو ملاتړ وكړي.

د ملي دفاع وزارت سرپرست بسم الله محمدي د چنګاښ په پينځمه نېټه اعلان وكړ چې د امنيتي او دفاعي ځواكونو اصلي خاوندان د افغانستان خلك دي. ښاغلي محمدي زياته كړه: «له ټولو هېوادوالو يو ځل بيا غواړم چې له دفاعي او امنيتي ځواكونو ملاتړ ته دوام وركړي.» هغه همدارازوويل چې امنيتي ځواكونه د افغانستان د پياوړتيا او ځواك ستنې دي او دغه ستنې به د خلكو په ملاتړ سره دوامداره پاتې شي.

دفاع وزارت په داسې حال كې له خلكو د امنيتي ځواكونو د ملاتړ غوښتنه كړې چې اوسمهال په بېلابېلو ولسواليو كې زرګونه ولسي پاڅونوال د طالبانو پر وړاندې جګړه كوي.

طالبانو په وروستيو اونيو كې خپل بريدونه په بې مخينې توګه زيات كړي دي. اوسمهال له شلو زياتو ولايتونو كې جګړه روانه ده. په ولسواليو كې د جګړې پراخوالى د دې لامل شوى چې دولت او خلك له ولسي پاڅونوالو په پراخه كچه هركلى وكړي، خو دا اندېښنه شته چې د جګړې له سرېدو وروسته ولسي پاڅونوال په سمه توګه مديريت نه شي. خو دفاع وزارت وايي چې د ولسي پاڅون كوونكو د مديريت لپاره منظم پروګرام لري.

د ملي دفاع وزارت مرستيال وياند فواد امان وايي چې ولسي پاڅونوال په هېڅ ډول جرمي مخينه نه لري او له امنيتي ځواكونو سره اوږه په اوږه جنګېږي. ښاغلي امان زياته كړه: «د دوى هدف نېك دى، له ځان او هېواده د ساتنې په پار يې وسلې پورته كړې، په دوى كې ډېرى ځوانان او لوستي وګړي دي؛ هغه كسان دي چې په دولت او خصوصي بنسټونو كې يې كار كاوه.» د دفاع وزارت د مرستيال وياند په وينا، په تخار كې يو شمېر ديني عالمان هم د امنيتي ځواكونو ترڅنګ درېدلي او د طالبانو پر وړاندې جګړه كوي.

فواد امان څرګنده كړه چې ولسي پاڅونوال د امنيتي بنسټونو په مديريت سره فعاليت كوي او په راتلونكي كې د هغوى د فعاليت په اړوا هېڅ اندېښنه نشته.

د طالبانو پر وړاندې ولسي پاڅون د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۲ كال كې د غزني په اندړو ولسوالۍ كې پيل شو او حكومت يې هركلى وكړ. د جګړې په پراختيا سره اوسمهال په هرات، تخار، بلخ، ارزګان، بغلان، فارياب او جوزجان ولايتونو كې ولسي وګړو وسلې پورته كړې او د امنيتي ځواكونو ترڅنګ د طالبانو پرخلاف جګړه كوي.

د دغو ځواكونو مشري او نظم تر ډېره د پخوانيو جهادي قوماندانو پر غاړه دى. په شمال كې د دې چارې مسؤليت د ولسمشر د مخكيني مرستيال مارشال عبدالرشيد دوستم، د بلخ د پخواني والي عطا محمد نور، د ولسمشر د سلاكار او د افغانستان د وحدت اسلامي ګوند د مشر محمد محقق او د وحدت نوين ګوند مشر او



په ولسي جرګه کې د بلخ د استازي عباس ابراهيم زاده پر غاړه دی.
دغو شخصيتونو اوس ژمنه کړې چې په خپل ټول ځواک سره د امنيتي ځواکونو او ولسي پاڅونوالو ترڅنګ دربېږي.
دفاع وزارت هم اعلان کړی چې ټول د اړتيا وړ وسايل او امکانات به د ولسي پاڅونوالو په واک کې ورکوي.
له بله پلوه، دا اندېښنه هم شته چې که په راتلونکي کې د ولسي پاڅونوالو د اړتيا وړ امکانات برابر نه شي، ښايي ځينې يې هر کار ته لاس واچوي او د خلکو لپاره ستونزې رامنځته کړي. په تېرو وختونو کې داسې راپورونه ؤ چې سيمه ييزو پوليسو په خپلو سيمو کې له خلکو په ناقانونه توګه پيسې اخيستې.
په افغانستان کې د ناټو د ځانګړو عملياتو قوماندانۍ تېر کال په يوه راپور کې د سيمه ييزو پوليسو د ملاتړ پروګرام د پايته رسېدو خبره تائيد کړه. د دغو ځواکونو برخليک تر يوې مودې ناڅرګند ؤ، خو وروسته بيا حکومت هغوی د سيمه ييزې اردو په چوکاټ شامل کړل. خو د وخت په تېرېدو سره به وليدل شي چې د ولسي پاڅونوالو برخليک به څه ډول شي.
د ملي دفاع وزارت مخکينی مرستيال شاه محمود مياخېل وايي چې که د امنيتي ځواکونو ترڅنګ موازي قوت رامنځته شي، نو د دولت په ګټه نه دی. ښاغلي مياخېل زياتوي چې ولسي پاڅون کوونکي بايد د امنيتي ځواکونو په چوکاټ کې تنظيم شي. هغه همدا راز وويل: «طالبانو تر دې دمه د جګړې له لارې څه نه دي ترلاسه کړي، که د سولې مذاکرات دوام ومومي او طالبان د مذاکراتو له لارې مخ ته لاړ نه شي، نو د نظام د نيولو او ساتلو توان هم نه لري.»

**د طالبانو پر وړاندې اصلي خنډ ولسي پاڅونوال دي**

د اسلامي جمعيت مرستيال احمد ضيا مسعود وايي چې له طالبانو سره جګړه اوږده او پراخه ده. نو په همدې اساس، اړتيا ده چې د جګړې او دفاع په کرښلاره کې هم په مناسب ډول بدلون راشي. د ښاغلي مسعود په وينا، اوس مهال طالبان په دې لټه کې دي چې مهمې ولسوالۍ، لويې لارې، بندرونه او وروسته بيا ولايتونه ونيسي. هغه زياته کړه چې ولسي پاڅون وال د طالبانو ددغه پروګرام پر وړاندې اصلي خنډ دي چې پرخلاف يې پاڅون کړی او له خپلې خاورې ساتنه کوي؛ خو د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو په چوکاټ کې په دې بڼه د دغو ځواکونو ساتل د تنظيم وړ نه دي. نو له همدې امله بايد زر تر زره «د ځان ساتنې» په نوم نوې اداره رامنځته شي.
ښاغلي مسعود همدا راز زياته کړې چې په کليو او ولسواليو کې بايد د طالبانو د نفوذ د مخنيوي په موخه په هماغه سيمو کې د جګړې پلان برابر شي او همداراز له کليو تر ولسواليو او له ولسواليو تر ولايتونو د لارو امنيت بايد د پاڅونوالو لخوا ټينګ شي.
د دې ترڅنګ ښاغلی مسعود وړانديز کوي چې ولسي وسله والې ډلې بايد د طالبانو په وړاندې جګړه کې له پوره خپلواکۍ برخمنې وي او د دې ترڅنګ ملي دفاع وزارت بايد د هغوی د اړتياوو او وسايلو مسؤليت په غاړه ولري.

# ۸۰ تنه افغان ژباړونکي استراليا ته وليږدول شول




◆ **محمد عزيز پردېس**

د استراليايي رسنيو په د رپوټونو له مخې، د دې هېواد دولت شاوخوا ۸۰ تنه هغه افغان ژباړونکي او کورنۍ يې استراليا ته لېږدولي چې په افغانستان کې يې له استراليايي ځواکونو سره د ژباړونکو په توګه کار کاوه.
استراليا په داسې حال کې دا پرېکړه کوي چې څو ورځې مخکې يې په کابل کې خپل سفارت هم وتاړه.
استراليايي چارواکو ويلي دغو ژباړونکو او کورنيو ته يې په افغانستان کې د سختې جګړې او دوی ته د ګواښونو په پار استراليا ته د تګ او هلته د پاتې کېدو اجازه ورکړې ده.
په دې وروستيو کې امريکا او بريتانيا هم ويلي چې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو له وتلو وړاندې به افغان ژباړونکو او کارکوونکو ته د اقامت ورکولو بهير چټک کړي.
يوه اونۍ مخکې، امريکايي رسنيو راپور ورکړ چې د امريکا حکومت په پام کې لري د امريکايي پوځيانو هغه زرګونه ژباړونکي او نور کارکوونکي، چې په افغانستان کې يې له امريکايي پوځيانو سره کار کړی له افغانستانه بهر کړي.
د امريکا يوه لوړپوړي چارواکي اسوشيېټېډ پرس خبري آژانس ته ويلي، چې په دې وروستيو کې بهر ته د هغو افغانان ژباړونکو او کارکوونکو د تلو بهير چټک شوی، چې په تېرو ۲۰ کلونو کې يې له امريکايي سرتېرو سره دندې ترسره کړې دي.

# ادبي ورشو

## لنډۍ

مازدیګر چېرته وي چې نه وي
خورې ورې زلفې په بام ولاړه ومه

مازدیګرې به شي په خپله
د چنارو سېرو ته مه ګوره مینه

مازدیګر لمونځ دې قبول مه شه
دیدن دې پرېښود د ایمان کوې سوالونه

مازدیګر لمونځ رانه قضا شو
نوی مین وم په دیدن نه مړېدمه

مازدیګرې دی سوال قبلېږي
خلکو زما په حق کې پورته کړئ لاسونه

مازدیګرې دی ښېرې مه کړه
ستا به عادت وي ما به ورک له ملکه کړینه

څوک په رضا له ملکه نه ځي
یا ډېر غریب شي یا د یار له غمه ځینه

څوک چې په چا باندې مین شي
هغه غمجن شي د هر چا د خندا شینه

څوک چې په شنو سترګو مین شي
پس د ماښامه دې پنځېزې ګرځوینه

څوک چې د ښکلو وفا غواړي
ما ته کیسه د صنوبر رایاده شینه

څوک چې د یار په غېږ کې پروت وي
په نورو خلکو د رندو ګومان کوینه

څوک مې د حاله خبر نه دی
لکه چنار مې په ډډ اور ولګېدنه

ولاړه ډېوه مړه سوه بې لمبې پتنګان څه کوي
لاس د ساقي تش دی په محفل کې رندان څه کوي
اوس د محتسب له وېرې  شرنګ له تاره نه وزي
نور به په دې  قبر کې مطرب او مغان څه کوي
نور به له منګیو سره پېغلې لنډۍ وچې وي
دلته پر ګودر باندې  به ټیک او پېزوان څه کوي
زموږ له کلیو بار کړې پسرلیو نیمه خوا کډې
اوس به له خزان سره راغلی باغوان څه کوي
موږ خو یې پر سیوري د رقیب ګامونه نه منل
اوس د رقیبانو په غوبل کې جانان څه کوي
ما به هر سهار نسیم ته نوې نغمه ولیکل
اوس به مې له اوښکو سره څېرې ګرېوان څه کوي
نن په هره پوله کې ښکارې دامونه وشیندل
اوس به له دې  باغه الوتلې مرغان څه کوي
مه راځه نسیمه غوړېدو ته غونچې نه لرو
ستا سره به وچ خزان وهلی بوستان څه کوي
پرېږده جهاني د لحد مړو ته یې مه لیکه
ګوره چې زمان دې په غزل او دېوان څه کوي

عبدالباري جهاني

## د قلم لاس

وخته چیغه کړه په زوره چې جانان قلم ته لاس کړې
د رنځونو، د دردونو، یو درمان قلم ته لاس کړې
چې نازکه مینه یوسې د شېرینو هیلو غېږ ته
په سینګار د ښایستونو د ایمان قلم ته لاس کړې
چې د مینې ښوونځي کې د ښکلا ټولګې ته ورشي
چې د ورانګو په نڅا کې د جهان قلم ته لاس کړې
چې د ستورو په جامه کې د هنر په لمن تاو شي
چې د خدای د مینې راز شې، د آسمان قلم ته لاس کړې
چې اورښت د حکمت وکړې د نړۍ په ورشوګانو
چې عاشق د محبت شې، د انسان قلم ته لاس کړې
چې مفتي شې د خوښیو، لونګین خواږه په ژبه
چې د ورانګو په خمار کې د سبحان قلم ته لاس کړې
چې اتل د ملي ګټو، په ملي روحیه سمبال شې
احمدي د سولې رنګ کې هر افغان قلم ته لاس کړې

ګل آغا احمدي

# مریدنامه ۳۰

◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

کنډرکلي ته ورسېدل، یوه کلیوال ورته وویل: ددې کلي خلک د یوه داسې پیر مریدان دي، چې چا یې مخ نه دی لیدلی. د کلیوالو پیر په یوه کنډواله کې ناست دی او تور څادر پرې راخور دی. پیر تر څادر لاندې خلکو ته وعظونه کوي.

د کلیوال پیر طریقه پر ورانۍ ولاړه ده، دغه پیر خپل کلیوال مریدان له ودانۍ څخه ویروي او په کنډوالو کې یې ژوند ته هڅوي. پیر وایي: ودانۍ ورانې کړئ او خپلې کنډوالې وساتئ، برکت په خاورو کې دی، پرزمکه ویده شئ ! نیمه سپوره وخورئ او په ودانۍ پسې مه ګرځئ !

په تور څادر کې پټ پیر، خلک له کار او کرنې ویروي او د پاکو رڼو اوبو څښل ناروا ګڼي. خلک له خندا څخه منع کوي او د ماشومانو لوبې یې نه دي خوښې. څو کلیوالو یوځل د خپلو ماشومانو لپاره د زده کړې یوه ښکلې سپینه خونه جوړه کړه، خو تر تور څادر لاندې پټ پیر پرې خبر شو او خپلو مریدانو ته یې حکم وکړ، چې سپینه شوې خونه رنګه کړي. سبا چې ماشومان سبق ته راغلل، که ګوري، چې له سپینې خونې تور لوګي پاڅېږي او رنګه بنګه سوزي....

ببرسري پیر، د کلیوالو پرسلوک وخندل، ښه په کړس یې وخندل اوخپل مرید ته یې وویل: په توره پرده کې پټ پیر به تر هغو پېشوا او مرشد وي، چې خلک په کنډوالو کې ژوند کوي، ودانۍ د دغه دروغجن پیري پای ته رسوي، نوله دې کلي څخه باید په منډه ووځو، په داسې کلي کې پاتېدل نه ښايي، چې پر ورانۍ ( اعتقاد) لري. لمرلوېده (د مقدسو ګنهګارانو) ښار ته ورننوتل، مرید هرڅه ته ځیر و، ښار تیاره، کوڅې لړلې او ښاریان خوار و ډنګر ښکارېدل، د ښار فضا غمجنه وه، تر کورونو هدېرې لویې وې، هر چا خپل ځیزونه له بل څخه ساتل او ماشومانو هر نارینه ته په وحشت کتل. ښځې خبرنې او ترهېدلې وې اوخلکو کورونو ته غټ غټ کولپونه اچول.

مرید لومړنی ښاري، چې د ده له څنګه تېرېده، ودراوه او پوښتنه یې ترې وکړه: ولې دې ته (د مقدسو ګنهګارانو) ښار وایي؟

ښاري په وېره وېره ځواب ورکړ: د دې ښار مشران وژونکي او غله دي، د ښار ښې زمکې او ښه کورونه د دوی دي او دا نور ټول ښاریان د دوی مریان دي. وژونکي او غله خپل ټول کړه وړه مقدس ګڼي او ښاریان یې په دې قانع کړي، چې هر هغه څه چې دوی کوي، ښه کوي او همدا د دین امر دی. د دوی هر عمل ثواب دی او دوی مقدس وګړي دي. ښاریان چې خپل هرڅه یې د همدې مشرانو د کړنو له کبله له لاسه ورکړي دي، لاهم همدا مشران مقدس ګڼي او باور پرې کوي. د دوی وژنې، غلاوې او نارواوې هېروي او شپه و ورځ د دوی لپاره دعا ګانې کوي. له نورو ښاریانو سره د دوی توپیر همدا دی، چې دوی خپله هره ګناه مقدسه ثابتولای شي.

ببرسري پیر کړس کړس وخندل او د خپل مرید پر اوږه یې لاس کېښود: په یاد ولره! هغه ښاریان، چې وژونکي او غله مقدس راهبان ګڼي، هغوی به تر ابده د ګناه له ویرې مریان پاتې شي.

بلخوا، هغوی چې خپل جنایتونه د مقدسو کړنو په نامه پرخلکو تپلای شي، تر ابده به باداران وي.

او مرید یوې پټې ویرې ولړزاوه...

# د څېړنوال سید نظیم سیدي د کتاب «د پښتو ادب پرمختیایي بهیر» تنقیدي ارزونه

◆ یونس تنویر

ادب تاریخونه د تنقید لپاره اړین دي، چې باید ولوستل شي. یو لامل دا دی، چې د زمانې د ادب یو ښه تشخیص پکې وي. او بل د مانیزو توکو د پېژندنې یوه غوره تیوري وي.

په پښتو ادب کې د استاد روهي او استاد زلمي هیوادمل تاریخونه داسې آثار دي، چې په پښتو ادب کې د لومړنیو خاکو په توګه ډېر غوره دي. خو وروسته، چې څه کار شوی دی؛ په ځانګړې ډول د پوهنتون استادانو، چې کوم کار کړی، نو له څېرمیه یې د تذکرو/تذکرو په سبک لیکل شوي. ددې پرځای، چې د پوهنتون زده کړیالانو ته تنقیدي بصیرت ورکړي، نو د قاعدې په ذهنیت یې روږدي کوي. او لکه آسان، چې فارغ شي، نو له ټولو لوریو یې سترګې تړلې وي. یوازې صراط مستقیم ګوري او مزل کوي. یانې زموږ زده کوونکي په میخانیکي ډول د تقلید په تناظر کې ساتل کېږي.

اړتیا خو دا وه، چې علمي او اکاډمیکو ځانګو د کره کتنې لپاره یوه دروازه پرانیستې وای؛ خو څوک شته، چې په تقلیدي موضوعاتو د نوي تجهدي تناظر بحث وکړي. څېړنوال سید نظیم سیدي، له داسې کسانو دی، چې د ادب تاریخونو معمولي څېړنه یې ماته کړې او په یوه نوي درایت یې د موضوعاتو جاج اخیستی دی. د شلمې پېرۍ په لومړنۍ نیمايي کې یې د پښتو ادب پرمختیایي بهیر تاریخي مطالعه کړې ده. د څېړنې لیکوال د وخت فرهنګي حالاتو ته یې نغوته کړې او دا یې د یوه تاریخ په څېر مطالعه کړې دي. یانې په ادبي تاریخ کې ضروري دا ده، چې سیاست د جګړې په ډول او د اتلولیو نمانځل نه دي، بلکې سیاست په ادب کې د یوې مفکورې او تفکر حیثیت لري. ادب تاریخ باید د همدې لید لوري له مخې په ادبیاتو کې تاریخي عوامل وڅېړي. د پښتو ادب د ودې په تکامل کې د ادب تاریخ لیکنې په توګه لیکوال هڅه کړې، چې یو لیدلوری رامنځته کړي. ددې ادبي تاریخ یوه غوره فلاټفورم دا هم دی، چې ځینې معنوي توکي یې په زیات تفصیل معرفي کړي دي.

د ځینو لیکوالو او شاعرانو د ونډې په هکله یې بحث کړی، چې تر ډېره په تنقید نه دی استوار او توصیفي او تشریحي تناظر لري. خو د ادب تاریخ متن تر ډېره له توصیفي او تشریحي میتود اخوا په تنقید ولاړ وي. ددې څېړنې یو ښه درایت همدا دی، چې ددې پېر ټول هغه عوامل پکې پېژندل شوي، چې په ادب یې اغېز زیات دی او یو ادبي تاریخ یې باید راڅرګند کړي. دا چې ددې تاریخ لیکنې سټایل څه وړ دی، دا د غور وړ ده؟ په هر صورت زموږ نظر دا دی، چې د جناب سیدي صیب دغه مهارت ډېر غوره دی، چې تحقیق د تحقیق په بڼه کوي او بیا د زوړ روایت په باره کې خپله خبره په نوې بڼه کوي. اوس وخت کې زیات لوستونکي د فرسوده موضوعاتو په اړه ښه خاطره نه لري، خو سیدي صیب دغه څېړنه د نوې بڼې د تیورۍ لرونکې ده. یانې ددغې څېړنې لوستل مو که پنځوس کاله تاریخي ادبي پېر سترګو ته نه دروي، خو د دیرش کلن تاریخ یو نوی باب مو ضرور سترګو ته دروي. د جناب سیدي صیب متن د مانا منطق زیات علمي او معلوماتي دی. یانې څېړونکي ټول معلومات تفسیر کړي دي او دا د ادبي تاریخ لیکنې یو ښه سټایل دی.

# په ننگرهار کې

## د مطالعې فرهنگ دودولو نوې هڅه



◆ **زمان سهیل ـ ننگرهار**

په ننگرهار کې د یوې ډلې ځوانانو په نوښت گرځنده کتابتون جوړ شو، د دوی د دغه گام موخه په ځوانانو کې د کتاب لوستلو کلتور دودول دي.

دا گرځنده کتابتون په یوه کوچنې موټر کې جوړ شوی، چې پر شاوخوا یې ښکلي پیغامونه هم لیکل شوي دي.

دغه کتابتون په کامه کې د هیواد د خیریه بنسټ په نوښت جوړ شوی چې مشري یې الهام یاسیني کوي.

الهام یاسیني ۸صبح ته وویل چې په دغه کتابتون کې د مصر ډېر تاریخي کتابونه هم شته، چې د دغه هیواد د سفارت په مرسته ورکړل شوي دي.

یاسیني وویل: «په مصر کې د ډاکټر محمدآمان کتابتون ؤ چې کتابونه یې د سفارت له لارې مونږ ته راواستول، خو ورځې مخکې موږ دا کتابتون پرانیست چې موخه مو د مطالعې فرهنگ دودول دي.»

هغه وایي، د دې گرځنده کتابتون اصلي کار به دا وي، چې پر ښوونځیو به گرځي او زده کوونکو ته به د هغوی له سویې سره سم کتابونه د لوست په موخه ورکوي.

الهام زیاته کړه، غواړي د دې کتابتون فعالیتونه نورو ولسوالیو ته هم وغځوي، خو په خبره یې که نور څوک دا ډول کتابتون جوړوي نو دوی ورسره مرسته کوي.

د دغه کتابتون پرانیستلو پر فېسبوک، ټوېټر او نورو ټولنیزو پاڼو کې د خلکو پام را اړولی او بېلابېلې تبصرې پرې شوې دي.

په ننگرهار کې د سباوون په نوم یو ځوان چې ډېرو بې وزله ځوانانو ته یې د زده کړو زمینه برابره کړې، د دې کتابتون پرانیستل یو نیک اقدام گڼي.

سباوون وایي، دا هڅه په ټولنه کې د کتاب لوستلو او کتاب ته د خلکو په پاملرنه کې ښې پایلې لري او گڼ ځوانان به کتاب لوستلو ته وهڅېږي.

هغه زیاته کړه: «اوس له بده مرغه د کتاب لوستلو فرهنگ پیکه شوی، نو دا کتابتون باید داسې عیار شي چې د خلکو د پام وړ کتابونه په کې موجود وي او همداراز په نورو ولسوالیو او ولایتونو کې هم باید دا ډول هڅې پیل شي. پیل شي.»

د ټولنیزو رسنیو یو فعال وحید زهیر لیکلي: «دا گرځنده کتابتون په ښه سلیقه برابر شوی او د هیواد د خیریه بنسټ د دې کار ستاینه کوم.»

د فېسبوک بل کاروونکي عارف الله ځلاند دغه نوښت په ځینو نورو خوړو تورو ستایلی دی، چې په خبره یې ډېر پرځای اقدام دی.

د کتاب لوستلو په برخه کې تر دې وړاندې په لغمان ولایت کې هم د ادریس سیاوش په نوم یو ځوان د بایسکل پر مټ د کتاب لوستنې کلتور د دودولو لړۍ پیل کړې وه. نوموړي د کابل په گډون یو شمېر ولایتونو ته سفرونه وکړل.

اوس مهال ټولنیزو رسینو ته د خلکو آسانه لاسرسي په ټولنه کې د کتاب لوستلو فرهنگ پیکه کړی او که څوک غواړي مطالعه وکړي، پر انټرنېټ پاڼو د خپلې خوښې وړ مضمون لټوي.

د اروپوهان وایي، د انټرنېټ پاڼو پر ځای د کتاب مطالعه څو چنده غوره او په ذهنونو کې پاتې کېږي، نو د همدې لپاره باید کتاب مطالعه کړو.

# برېښنا شرکت يو ځل بيا له امنيتي بنسټونو او خلکو وغوښتل چې د برېښنا د ستنو ساتنه وکړي

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صميم

د پروان ولايت په بگرام ولسوالۍ کې د وارداتي برېښنا له ويجاړېدو وروسته، برېښنا شرکت يو ځل بيا له امنيتي ادارو او خلکو وغوښتل چې په هېواد کې د برېښنا تاسيساتو د ويجاړولو د مخنيوي لپاره له دغه شرکت سره جدي همکاري وکړي.

برېښنا شرکت د چنگاښ په شپږمه نېټه په يوه اعلاميه کې د بگرام ولسوالۍ په رباط سيمه کې د ويجاړې شوې ستنې د رغولو خبره کړې وه چې په سالنگ کې د نړول شويو ستنو له رغولو لږ وروسته ويجاړه شوې وه.

د برېښنا شرکت د مسوولينو په وينا، په خنجان کې هم د وارداتي برېښنا مزي رغول کېږي.

له بلې خوا، برېښنا شرکت له خلکو او د هېواد له امنيتي بنسټونو غوښتي چې د برېښنا د ستنو د امنيت د ساتلو په برخه کې جدي همکاري وکړي. د برېښنا يوه ستنه د غبرگولې په ۲۶مه نېټه د پروان په سالنگ ولسوالۍ کې د چاودنې له امله ويجاړه شوه.

له هغې دوه اونۍ مخکې هم په همدې ولسوالۍ کې دوې نورې ستنې نړول شوې وې، له هغې وروسته د چنگاښ په دوهمه په خنجان سيمه کې د برېښنا مزي پرې شوي وو.

برېښنا شرکت د چنگاښ په پينځمه نېټه اعلان وکړ چې په سالنگونو کې د برېښنا ستنې رغول شوې او پلازمېنې او شاوخوا ولايتونو ته برېښنا فعاله شوې ده.

خو له هغې لږ وروسته د بگرام ولسوالۍ په رباط سيمه کې د برېښنا يوه ستنه ونړول شوه او يو ځل بيا د کابل او لسو نورو ولايتونو برېښنا پرې شوه.

له بلې خوا، د پروان ولايت سيمه ييز چارواکي وايي چې په پروان ولايت کې د برېښنا د ستنو د ويجاړولو په تور درې تنه نيول شوي دي. سرچينه وايي چې د مماتي ورور د دې ډلې مشري کوي.

د پروان امنيه قوماندان عبدالرووف ارزگاني وويل چې دغه درې تنه د چنگاښ په اوومه نېټه په سالنگ ولسوالۍ کې نيول شوي دي. د پروان والي فضل الدين عيار هم وايي چې امنيتي ځواکونو له دغو کسانو پلټنې پيل کړې دي.

د ۱۳۹۸ کال د غبرگولي په نولسمه نېټه د ملي امنيت عمومي رياست اعلان وکړ چې د برېښنا د ستنو د ويجاړولو په تور يې يوه څلور کسيزه ډله د سالنگ له آهنگرانو سيمې څخه نيولې ده. د دې ډلې مشري په «مماتي سالنگ» مشهور دل آغا له خوا کېده او غړو يې د ستنو د نه ويجاړولو په بدل کې د سل زره ډالرو غوښتنه کوله. محکمې دغه څلور تنه په شپاړس کاله بند او د ۴۰۸ ميليون او ۶۳۲ زره افغانيو جريمې په ورکولو محکوم کړل.

په تېرو څو مياشتو کې د پروان ولايت په ولسواليو او د کابل په شمال کې د برېښنا څو ستنې ويجاړې شوې دي چې له امله يې پر کابل سربېره د څو نورو ولايتونو برېښنا پرې شوې او برېښنا شرکت ته يې ميليونونه ډالر زيان رسولی دی.

۸صبح ورځپاڼې له دې وړاندې رپوټ ورکړی و چې د برېښنا د ستنو د ويجاړولو عاملين له برېښنا شرکت څخه د ۳,۵ ميليون ډالرو غوښتنه کړې ده.



روغتیا وزارت:

# د کورونا ویروس دلتا ډول په چټکۍ د خپرېدو په حال کې دی




◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د عامې روغتیا وزارت په هېواد کې د کورونا هندي ډول یا دلتا د خپرېدو په اړه خبرداری ورکړی دی.

د روغتیا وزارت سرپرست وایي چې په وروستیو ورځو کې د وضعیت د لاخرابېدو اصلي لامل په هېواد کې ددغه ډول ویروس خپرېدل دي.

د عامې روغتیا وزارت سرپرست وحید مجروح د چنګاښ په پینځمه نېټه په خبري ناسته کې وویل چې په مرکزي لابراتوارونو کې د دغه وزارت د متخصصینو د آزموینښتونو پایلې ښیي چې د دلتا په نوم د کورونا ویروس هندي ډول د خپرېدو په حال کې دی.

د مجروح په وینا، له نولسو معاینو څخه چې په مرکزي لابراتوارونو کې شوې د ۱۱ پایلې د دلتا ډول ویروس و چې په افغانستان کې په چټکۍ په خپرېدو دی. پاتې اته موردونه یې د کورونا ویروس بریتانوي ډول تشخیص شوی دی.

مجروح زیاته کړې چې په وروستیو ورځو کې په کورونا د اخته وګړو د زیاتوالي اصلي لامل په هېواد کې د کورونا ویروس د هندي ډول خپرېدل دي.

د عامې روغتیا وزارت وایي چې اوس د هېواد په لابراتوارونو کې د کورونا د دلتا ډول د تشخیص ظرفیت شته.

د عامې روغتیا وزارت جوته کړې چې په کورونا ویروس د اخته وګړو شمېر په زیاتېدو دی او اکسیجن تراوسه هم د هېواد په روغتونونو کې یوه اصلي ستونزه ګڼل کېږي.

مجروح زیاته کړې چې روغتیا وزارت د ښوونځیو او پوهنتونونو د پرانیستلو لپاره د خلکو تر زیات فشار لاندې دی او په پام کې لري چې تر راتلونکې اونۍ پورې ددغو بنسټونو د پرانیستلو طرحه روغتیایي تدابیرو په پام کې نیولو سره وروستۍ شي.

مجروح وایي چې هغه په ښوونیزو بنسټونو کې روغتیایي سپارښتنو ته د پاملرنې په اړه ډاډمن نه دی، خو ددغو بنسټونو د پرانیستلو لپاره فشارونه ډېر زیات دي.

د روغتیا وزارت سرپرست زیاتوي: «د ورځې ۵۰ سلنه وخت مو د هغو وګړو په قانع کولو تېرېږي چې موږ ملامتوي چې ولې مو ښوونځي تړلي دي.»

له بلې خوا، وحید مجروح وایي چې د جولای میاشتې تر اوومې نېټې پورې به د امریکا له خوا مرسته شوې جانسون جانسون درې میلیون دوزه واکسین افغانستان ته راورسېږي.

د مجروح په وینا، له ۵۵ کلنۍ لوړ عمر لرونکي وګړي، روغتیایي کارکوونکي، د ښوونځیو او پوهنتونونو ښوونکي او استادان او همداراز له لومړي تر درېیم ټولګي زده کوونکو میندې او پلرونه په لومړي او له څلورم تر شپږم ټولګي زده کوونکو میندې او پلرونه په دوهم پړاو کې ددغو واکسینو د تطبیق په لومړیتوب کې دي.

هغه همداراز د خلکو له خوا د وقایوي تدابیرو له نه رعایتولو ګیله لري او وایي چې په ځینو ولایتونو کې د ودونو هوټلونه په پټه فعالیت لري او له روغتیایي برخې سره د خلکو د همکارۍ کچه ټیټه ده.

د عامې روغتیا وزارت سرپرست وایي چې په کورونا ویروس د اخته وګړو په شمېر کې یو سلنه بدلون راغلی، خو په ټول کې په دغه ویروس د اخته وګړو شمېر په زیاتېدو دی او خلک باید په ورځنیو شمېرو دوکه نه شي.

# د ننګرهار په زندان کې د روږدو د درملنې لس بستریز روغتون پرانیستل شو



◆ **زمان سهیل ـ جلال آباد**

د ننګرهار د عامې روغتیا ریاست له لورې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې نړیوالې ورځې په مناسبت د دې ولایت په محبس کې د روږدو د درملنې په موخه لس بستریز روغتون پرانیستل شو.

د دغه ولایت د روغتیا ریاست د چارواکو په وینا، له دې وروسته به په دې روغتون کې په نشه یي توکو د روږدو بندیانو درملنه کېږي.

د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس ډاکتر نصیر احمد دُراني وویل چې روغتیا ریاست په پام کې لري چې د یاد روغتون په سمبالولو او نورو برخو کې جدي همکاري وکړي.

د چارواکو په وینا، د افغانستان په زندانونو کې د درملنې ستونزو د اوارې په موخه د روږدو د درملنې لپاره د ورته ځانګړو روغتونونو د جوړولو لپاره د افغان حکومت هڅې روانې دي.

د هېواد په زندانونو کې بندیانو ته د نشه يي توکو آسانه لاسرسي د دې زمینه برابره کړې چې په نشه یي توکو د روږدو وګړو شمېر زیات شي.



# له کندهاره د امن او سولې چیغه؛ کندهاریانو د نظام په ملاتړ غونډه وکړه

◆ **احمد شاه شاداب**

په کندهار ولایت کې د نظام، امنیتي او دفاعي ځواکونو په ملاتړ لویه ولسي غونډه وشوه. د سولې د مذاکراتو پیکه وضعیت، د طالبانو له لورې په جګړه کې د عامه تاسیساتو ویجاړول او د ملکي وګړو ژوند ته نه پاملرنه هغه موضوعات ؤ، چې په غونډه کې ویناوالو یې په اړه اندېښنه څرګنده کړه. د غونډې یوه برخه د سولې غوښتنې او په دوهمه برخه کې بیا د کندهار د ولایتي اداري پر ناسم مدیریت نیوکې وشوې او دا ستونزه یې د کندهار د پوهنې، روغتیا، امنیت او په نورو پرمختیایي چارو کې د پراخ فساد او وروسته پاتې کېدو لامل وبلله. دغه غونډه چې شعار یې «د نظام ملاتړ، د سولې غوښتنه او د کندهار ژغورنه» و، زرګونه قومي او جهادي مشرانو، دیني عالمانو، سپین ږیرو او ځوانانو په کې ګډون کړی ؤ.

دوی پر طالبانو د سولې غږ او د کندهار په ولایتي اداره کې د شته ستونزو د حل غوښتنه وکړه. د لغمان مخکیني والي رحمت الله یارمل دې غونډې ته د وینا پر مهال وویل چې، طالبانو د پردیو په لارښوونه کندهار کې ډېر ظلمونه وکړل.

یارمل څرګنده کړه چې، له نظامه ملاتړ کوي او چاته به اجازه ورنکړي چې پر افغانانو بیا ظلم وکړي. هغه د کندهار پر ولایتي اداري له دې امله نیوکه وکړه، چې په پوهنیز بهیر، روغتیا، امنیت او ګڼو نورو پرمختیایي برخو کې یې ناسم مدیریت او پربکړې د فساد او جګړې لامل شوي. یارمل زیاته کړه، د دغو ستونزو د حل په موخه به د «کندهار ژغورنې» په نوم د غږ پورته کولو دا لړۍ روانه وي. په غونډه کې د کندهار پر امنیتي وضعیت هم خبرې وشوې او ګډونوالو په دغه ولایت کې د مرکزي حکومت د نه پاملرنې له امله ورځ تر بلې د وضعیت د ترینګلې کېدو په اړه اندېښنه وښوده.

د غونډې ویناوالو له طالبانو وغوښتل چې د اوربند او سولې غوښتنې ته دې هرکلی ووایي او روانه جګړې دې ودروي.

د غونډې یو شمېر نورو ویناوالو بیا نیوکې لرلې، چې حکومت د لوی کندهار اوسېدونکو ته په ملکي او نظامي بستونو کې حق نه دی ورکړی او دا کړنه د دې لامل شوې، چې حکومت کمزوری او جګړې زور واخلي.

د ویناوالو په خبره، حکومت د یوې ځانګړې کړۍ د ګټو لپاره دی او هره ورځ په کې آزمایل شوي او ناکام اشخاص لوړو چوکیو او وزارتونو ته معرفي کېږي.

# په هلمند کې به سږکال ۹۵زره ټنه انګور ترلاسه شي



◆ **محمد عزيز پردېس**

د هلمنـد ولايت د کرنـې رياست وايـي چـې پـه دې ولايت کـې بـه سږ کال د انګورو حاصلات د تېر کال په پرتله زيات وي. د هلمند د کرنـې ريیـس زلمـی الکـو وايـي، تمـه ده چـې سږ کال د هلمند د انګـورو لـه بڼونـو څـه بانـدې ۹۵زره ټنه حاصلات ترلاسـه شـي.

د هلمنـد د کرنـې د رئيـس پـه وينـا، اوسمهال د هلمنـد پـر ٦٩٣٥ هکتـاره ځمکـه د انګورو بڼونه موجـود دي چـې د تېـرکال پـه پرتله ددې ولايت د انګـورو د بڼونـو شـمېر زيـات شـوی او هڅه کـوو، چې دا شـمېر لا هـم زيات شـي.

د ښاغلي الکـو پـه وينـا، لـه دغو بڼونـو به سږکال څه بانـدې ۹۵زره مټريـک ټنه انګور ترلاسـه شـي.

د هلمنـد د کرنـې رياسـت د معلوماتـو لـه مخـې، په هلمنـد کې ډول ډول انګـور ترلاسـه کېږي او دا چـې د هلمنـد انګـور د نـورو ولايتونو پـه پرتلـه زر پخېږي، نـو پـه بېلابېلـو ولايتونـو کـې ښـه مارکېټ هـم لري.

دغـه رياسـت زياتـوي، پـه هلمنـد کـې د انګورو ګڼ شـمېر بڼونه شـته چـې د تېـرو کلونـو پـه پرتلـه يـې د حاصلاتو پـه کيفيت او انـدازه کې هـم د پام وړ بدلـون راغلی دی.

د هلمنـد انګـور د يو شـمېر ولايتونو لکـه زابل، غزنـي، وردګو، نيمروز او کابـل ترڅنـګ پاکسـتان او هنـد تـه هـم صادرېږي او پـه بهر کې هم ښـه مارکېټ لري.

# په خوست کې هغه زرګونه مرمۍ ترلاسه شوې چې له پاکستانه راليږدول شوې وې



◆ **زمان سهيل**

د ملـي امنيـت ځواکونـو پـه خوسـت ولايـت کـې د دهشـکې هغـه زرګونـه مرمـۍ ترلاسـه کړې چې له پاکسـتانه رالېږدول شـوې وې.

د دې ولايـت د ملـي امنيـت رياسـت وايـي چې دا مرمـۍ د صبريو ولسـوالۍ د جګـړې ليکـو لېـږدول کېدې.

د خوسـت والـي مهمنـد کټـوازي وويـل: «دښـمن غوښـتل چـې له دغـو مرميـو په صبريو ولسـوالۍ کـې د جګړې پر مهـال کار واخلي خـو موخـې ته تر رسـېدو وړاندې ترلاسـه شـوې.»

د دې رياسـت چارواکـي وايـي چـې دغـه مرمـۍ چې په ۴۴ بکسـو کـې ځـای پرځـای شـوې وې، شـمېر يـې زرګونـو تـه رسـېږي. خوسـت ولايت لـه پاکسـتان سـره اوږده پولـه لـري.

اوس مهـال د خوسـت پـه صبريو ولسـوالۍ کې د امنيتـي ځواکونو او طالبانـو ترمنځ جګـړه روانه ده.

# د لغمان په الینګار کې د جګړې پرمهال هټۍ سوځېدلې دي



◆ **زمان سهیل**

د لغمان ولایت په الینګار ولسوالۍ کې د طالبانو او افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ترمنځ جګړه کې د ملکي وګړو هټۍ سوځېدلې دي.

د الینګار ځایي اوسېدونکي وایي، د افغان ځواکونو او طالبانو ترمنځ د سختې جګړې پرمهال د ولسوالۍ پر بازار د درنو وسلو مرمۍ لګېدلې دي.

د سیمې یو اوسېدونکی صفي الله وایي: «اتو دوکانونو اور اخیستی چې شاو خوا ۳۰ لکه افغانۍ زیان ورسېدلی دی.»

د الینګار ولسوالۍ د ځوانانو شورا مشر جابر الکوزی له حکومته غواړي چې له زیانمنو سره مرسته وکړي.

له بلې خوا، د لغمان د والي ویاند اسدالله دولتزي ۸صبح ته وویل، چې د جګړې پرمهال د طالبانو د هاوان مرمۍ د ولسوالۍ په بازار کې پر هټیو لګېدلې او اور یې اخیستی چې خلکو ته یې مالي زیانونه اړولي دي.

د دغې ولسوالۍ ځایي چارواکي وایي چې د زیانونو ارزونه کوي او له هغې وروسته به ورسره مرسته وشي.

طالبانو د دولتي چارواکو ددغې ادعا په اړه چې هټۍ د دوی له لوري سوځول شوې، لا تراوسه څه نه دي ویلي.

په جګړه کې دواړو خواو ته د اوښتو تلفاتو په اړه هم کره معلومات نه دي ورکړل شوي.

د لغمان دولت شاه ولسوالۍ له تېرې یوې میاشتې راهیسې د طالبانو لاسته ورغلې او په علیشنګ او الینګار کې امنیتي ځواکونه د کلابندۍ په حال کې دي.

خلک وایي، دغو ولسوالیو ته په غځېدلې لار کې طالبانو مینونه هم خښ کړي، چې د امنیتي ځواکونو ورتګ یې ستونزمن کړی دی.

# په بغلان کې د برښنا مزو د رغولو پرمهال د دغه شرکت د درېیو کارکوونکو مړینه

◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

برښنا شرکت وایي چې د دې شرکت درې کارکوونکي په بغلان ولایت کې د برق نیولو له امله مړه شوي دي.

د دغه شرکت یوې سرچینې ویلي چې د برښنا شرکت یو «کرن چلوونکی» او دوه تخنیکي کارکوونکي د بغلان ولایت په مرکز پلخمري کې د منځنې ولتاژ د مزو د زغولو پر مهال مړه شول.


دغه پېښه د چنګاښ په پینځمه نېټه رامنځته شوې ده.

سرچینې د تخنیکي ډلې له لوري د برښنا مزو د رغولو پر مهال نه همغږي د دې پېښې لامل ګڼي.


د وارداتي برښنا مزي څو ورځې وړاندې د بغلان ولایت په خنجان ولسوالۍ کې پرې شوي وو.

له هغې یوه اونۍ مخکې د پروان په سالنګ کې د برښنا درې ستنې د مین په چاودنه کې ویجاړې شوې وې.

برښنا شرکت څو ورځې وړاندې اعلان وکړ چې د برښنا ستنو د اساسي رغولو په پار به د ۷۲ ساعتونو لپاره د کابل او ۱۰ ولایتونو برښنا بنده وي، خو د چنګاښ په پینځمه نېټه ماښام مهال یو ځل بیا په پروان ولایت کې د برښنا د یوې بلې ستنې د ویجاړېدو خبر ورکړل شو.



# د قومي تعصب پای





◆ **لیکنه: فرهاد دریا**
◆ **ژباړه: ډاکتر ساپی**

ډېر نازک او له شوره ډک وخت دی! له هرې سیمې د عدالت او برابرۍ غږ اوچتېږي.

تر ظلم لاندې قبایل، قومونه او اولسونه ورځ تر بلې یو غږ کېږي. د عدالت غوښتنې په دغه لیکنه کې د «منظور پشتین» نوم له پامه نشو غورځولی. پشتین نه کوم سیاسي مشر دی او نه هم د حکومت غړی. هغه د یوه عام وگړي په توگه د جنگ، ظلم او بې عدالتۍ له منځه د پاکستان نظام او استخباراتي جوړښت نه راوچت شوی او د عدالت غږ یې له سرحدي کرښې اوښتی دی.

هغه د بدخشان، تخار، هرات، ننگرهار، لوگر او غزني لپاره اوښکې تویې کړې او د برچې په پېښه کې یې د هزاره وژنې پر ضد غږ اوچت کړ. ماته یاد دي چې کله فرشته کوهستانۍ په کاپیسا کې ترور شوه منظور پښتین د هغې پېښې په غبرگون کې په فارسي ټویټ سره غږ پورته کړ.

که څه هم د پشتین غورځنگ د پاکستان تر ستم لاندې د پښتنو لپاره د عدالت د غږ لپاره مبارزه کوي خو هغه د هر ازبک، هزاره، تاجک، پښتون او ټولو مظلومانو د درد ناره ده.

د منظور پښتین غورځنگ د عدالت غوښتنې اواز کېدای شي همغږی شي، ځکه زموږ درد او زموږ دښمن یو دی او پښتین د ټولو ستونزو مرکز په نښه کړی دی. هغه د افغانستان د بدبختي او جنگ اصلي لامل پر ضد چې د پاکستان حکومت دی غږ پورته کړی د هغه په شعار کې یوه نړی خبرې دي.

پشتین وایي: «یی جو دهشتگردي هې، اس کې پیچې وردي هې.»

یعنې د «سیمې او افغانستان د بدبختۍ اصلي لامل د پاکستان پوځي او استخباراتي جوړښت دی.»

جالبه ده کومه خولې چې پښتین یې پر سر کوي او د هغه ملگري یې د غورځنگ نښه گڼي، هغه په اصل کې زموږ د بدخشان ده، چې د پښتین غورځنگ په واسطه یې بیاځلې نړیوال شهرت ترلاسه کړ. په لنډه توگه نن ورځ تعصب او قوم پرستي پایته رسېدلې ده. هېڅ قوم او ملت نه شي کولای ادعا وکړي چې موږ پر بل قوم پورته یو، ځکه انسانیت پوله نه پېژني.

زما د خوږ ملگري نجیب بارور په وینا

«هر کجا مرز کشیدند، شما پل بزنید!»



# په ننگرهار کې د څلور زره ښوونکو گمارل

◆ **زمان سهیل - ننگرهار**

د پوهنې وزارت په ننگرهار کې ۴۰۰۰ ښوونکي په دنده گماري، چې تازه یې دا بستونه آزادې سیالۍ ته وراندې کړي دي. ددغه ولایت اوسېدونکو ددې پرېکړې تود هرکلی وکړ او په ټولنیزو پاڼو کې یې خوښۍ څرگندې کړې دي.

د ننگرهار د پوهنې رئیس حسیب الله شینواري له ۸صبح سره په مرکه کې وویل، چې د ښوونکو گمارل د آزموینو د ملي کمیټې له خوا ترسره کېږي، چې پاڼې به د ماشین په مټ ارزول کېږي.

حسیب الله شینواري زیاته کړه: «دا ښوونکي په هغو سیمو کې په دندو وگمارل کېږي، چې بې ځایه شوي او کډوال په کې دي او یا هم پخوا ډېره پاملرنه نه ده ورته شوې.»

د هغه په وینا، په ننگرهار کې شاوخوا ۷زره ښوونکو ته اړتیا ده، چې په دې څلور زره نوي تشکیل سره به د ښوونکو د کمښت ستونزه تر ډېره اواره شي.

د پوهنې رئیس وایي چې په ننگرهار کې د ښځینه زده کوونکو شمېر ته په پام سره درې زره ښځینه ښوونکو ته اړتیا ده، چې تازه بستونه یې ۵۵ سلنه ښځینه ښوونکو ته ځانگړې کړې دي.

اخوا، د ننگرهار والي ضیاءالحق امرخېل هم په خپل ټوېټر لیکلي چې په دې سره به په ننگرهار کې د ښوونکو د کمښت ستونزه حل شي.

د ننگرهار د پوهنې رئیس د معلوماتو له مخې، په دې ولایت کې اوس مهال ټول ۹۰۴ ښوونځي فعالیت لري، چې شاوخوا ۴۰ سلنه یې ودانۍ نه لري.

شینواری وایي چې په دغو ښوونځیو کې ۱۹۸ یوازې د نجونو او ۳۱۰ لومړني ښوونځي دي چې نجونې او هلکان په کې زده کړې کوي او ۳۹۶ ښوونځي هم د هلکانو لپاره دي.»

د معلوماتو له مخې، په ننگرهار کې په دولتي او شخصي ښوونځیو کې ټول کابو یو میلیون زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې ۳۸ سلنه یې نجونې دي.




# ټویټر چا او ولې جوړ کړ؟

◆ محمد عزیز پردېس

ټویټر څه دی؟ بنسټ ایښودونکی یې څوک و؟ د دې ټولنیزې رسنۍ د جوړولو موخه څه وه؟ دا او نورې هغه پوښتنې چې په دې لیکنه کې به تاسو ته ځواب شي.

له فېسبوک وروسته ټویټر ترټولو زیاته ملاتړ لرونکې ټولنیزه رسنۍ ګڼل کېږي او دمګړۍ په ټوله نړۍ کې له فېسبوک وروسته زیات کاروونکي لري.

ټویټر هغه ټولنیزه او میکروبلاګي آنلاین شبکه ده چې خپلو کاروونکو ته اجازه ورکوي د ۱۴۰ – ۲۸۰ کرکټرو پورې پوسټونه چې د ټویټ په نامه یادېږي، واستوي او ویې لیکي.

ټویټر د ۲۰۰٦ کال په مارچ میاشت کې د (جک دروسي) له لوري رامنځته شو او د همغه کال په جون میاشت کې ګټې اخیستو ته وسپارل شو. نومړۍ ټولنیزه رسنۍ په ډېرې چټکۍ سره پراختیا ومونده چې په ۲۰۱۲ کال کې یې د کاروونکو شمېر کابو ۱۴۰ میلیون تنو ته ورسېد. د ټویټر شرکت د امریکا په سانفرانسسکو ښار کې موقعیت لري او ټویټر په ټوله نړۍ کې له هغه لسو سایټونو څخه دی چې ډېر کتونکي او لیدونکي لري.

جک دروسي وایي: د ټویټر کلیمه مې په ناڅاپي او تصادفي ډول ذهن ته راغله چې دا په حقیقت کې ډېر ښه انتخاب و. د دې کلیمې مانا: د نامرتبطه اطلاعاتو لنډ ځنځیر او د الوتونکي غږ دی.

د یادونې وړ ده چې ټویټر په لومړیو کې د اوډیو شرکت داخلي کارکوونکو لپاره اوډون شوی و، خو د ۲۰۰۷ کال په اکتوبر کې په یوه خپلواک شرکت بدل شو.

## د ټویټر پرمختګ

د ټویټر شرکت ډېر ژر او په کمه موده کې پرمختګ وکړ او پراخ شو. په ۲۰۰۷ کال کې په هرو ۱۵ دقیقو کې ۴۰۰ زره ټویټونه پوست کېدل، دا شمېر په ۲۰۰۸ کې ۱۰۰ میلیونو ته ورسېد. په ۲۰۱۰ کال کې د ټویټر کاروونکو د ورځې ۵۰ میلیونه ټویټونه استول او د compete.com سایټ په وینا د ۲۰۰۹ کال په جون میاشت کې ټویټر د ټولنیزو رسنیو په کتار کې دریېم مقام واخېست.

## د ټویټر مالي سرچینې

د غیر رسمي سرچینو له مخې، د ټویټر لومړنۍ پانګه له ۱ تر ۵ میلیون ډالره وه. کله چې د ټویټر شبکې فعالیت پیل کړ، نو د یو شمېر مالي، صنعتي او څېړنیزو بنسټونو او شرکتونو لخوا په نومړې شبکې کې د ۵۷ میلیونو ډالرو په ارزښت پانګونه وشوه. (spark capital)، (Union Square Ventures) او (Insight Venture Partners هغه شرکتونه دي چې په ټویټر کې یې پانګونه کړې ده.

## د ټویټر ځانګړنې

د ټویټر کارول د نورو ټولنیزو رسنیو په پرتله ډېر ساده او آسانه دي او کاروونکي یې کولی شي چې په ډېره آسانۍ، په چټکه او په لنډه موده کې ټویټ وکړي او هغه په ټوله نړۍ کې له میلیونونو نورو کاروونکو سره شریک کړي.

۱- ټویټر خپلو کاروونکو ته دا امکان برابروي چې په لنډه موده کې نوي ټویټونه وکړي او د نورو کاروونکو وروستي ټویټونه په آسانۍ وګوري.

۲- د ټویټر هر یو پیغام ( ټویټ ) د ۱۴۰ – ۲۸۰ کرکټرو پورې محدود دی چې په چټکۍ او آسانۍ سره د لیدلو وړ دي او لوستل یې لږ وخت نیسي.

۳- ټویټر خپلو کاروونکو ته د کار د آسانۍ په موخه د ټویټر پیغام بکس هم رامنځته کړی دی.

۴- په امریکا کې د لوړپوړو چارواکو، مشهورو څېرو او مهمو وګړو د ټویټونو د ساتلو او خوندي کولو لپاره یوه ځانګړې اداره همدې کار ته ګومارل شوې ده.

۵- کله چې د ټویټر یو کاروونکی ډېر فالورز پیدا کړي او په بېلابېلو برخو کې ګټور، موثق او کره مالومات خپلو مینه والو ته وړاندې کړي، نو د ټویټر له لوري ورته د نومړي شخص د پروفایل ترڅنګ یوه آسماني رنګه ټکمارک شوې علامه ورکول کېږي.

# له استرالیا او ویسټ انډیز سره د افغان کرېکټ ملي لوبډلې نوې لوبې اعلان شوې



◆ **محمد عزیز پردېس**

له استرالیا او ویسټ انډیز سره د روان کال په اکتوبر میاشت کې شل اوریزه سیالۍ ترسره کېږي او تر راتلونکو دوو اونیو پورې به د شل اوریزه سیالیو لوبډلمشر هم اعلان شي.

د افغانستان کرېکټ بورډ رئیس فرهان یوسفزی وایي چې افغان کرېکټ ملي لوبډله به د روان کال په اکتوبر میاشت کې د استرالیا او ویسټ انډیز کرېکټ ملي لوبډلو سره ۲۰ اوریزې سیالۍ ترسره کړي.

د دغه لوبو ځای لا تر اوسه نه دی څرګند شوی.

فرهان یوسفزي چې نن یې کرېکټ بورډ کې په یوه خبري کنفرانس کې خبرې کولې وویل، چې تر راتلونکو دوو اونیو پورې به د شل اوریزو فارمټ لپاره هم نوی لوبډلمشر هم اعلان شي.

کرېکټ بورډ څه موده مخکې ځوان لوبغاوی حشمت الله شهیدي د افغانستان کرېکټ لوبډلې د پنځوس اوریزو او ټېسټ فارمېټونو لپاره د نوي لوبډلمشر په توګه وټاکه.

یوسفزي زیاته کړه چې د افغانستان سوداګریز کرېکټ لیګ یا APL سیالۍ به هم د راتلونکي کال په فبرورۍ میاشت کې ترسره شي.

د کرېکټ بورډ رئیس دغه څرګندونې په داسې وخت کې کوي چې د افغانستان کرېکټ سوداګریزې سیالۍ یا APL شاوخوا درې کاله کېږي چې نه دي ترسره شوي او له دې امله د کرېکټ څارونکو او مینه والو لخوا هر وخت نیوکې کېږي.

په ورته وخت کې افغان کرېکټ لوبډلې د کورونا لومړۍ څپې راهیسې له نورو هېوادونو سره د پام وړ لوبې نه دي کړې او د کرېکټ لوبډلې یو شمېر لوبغاړي یوازې په شخصي سوداګریزو لیګونو کې لوبېږي.

تمه ده د سږ کال ۲۰ اوریزه کرېکټ نړیوال جام هم په عمان او متحده عربي اماراتو کې د IPL لیګ له پایته رسېدو ۲ ورځې وروسته پیل شي.

افغانستان په دغه جام کې شامل دی او له بېلابېلو هېوادونو سره به مخامخ شي.

نړیوال جام به په دوو پړاوونو کې د اکتوبر په ۱۷مه عمان کې پیل او د نومبر په ۱۴مه پایته ورسېږي.

له شل اوریزو نړیوال جام څخه وړاندې افغانستان له پاکستان سره د درېیو پنځوس اوریزو لوبو کوربتوب هم کوي چې په همدې میاشت کې به د هند کرېکټ غوره لیګ IPL پاتې لوبې هم په متحده عربي اماراتو کې ترسره شي.

د هند په غوره لیګ کې د افغانستان کرېکټ ملي لوبډلې درې لوبغاړي هر یو راشد خان، محمد نبي او مجیب الرحمن هم اخیستل شوي چې د سنرایزر حیدرآباد له لوبډلې سره لوبېږي.

دغه سیالۍ څه موده وړاندې په هند کې پیل شوې چې په یاد هېواد کې د کورونا درېیمې څپې له چټکې خپرېدا وروسته وځنډول شوې.




د افغانستان د تکواندو فدراسیون اعلان کړی چې افغانستان د تکواندو په نړیوالو آسیایي سیالیو کې اووم مقام خپل کړ. د افغانستان د تکواندو فدراسیون وایي چې تر دې وړاندې افغانستان په ۲۰۱۲ کال کې هم اووم مقام خپل کړی و.








له استرالیا او ویست انډیز سره د روان کال په اکتوبر میاشت کې د کرېکټ شل اوریزي لوبې ترسره کېږي او تر راتلونکو دوو اونیو به د شل اوریزو سیالیو لوبډلمشر هم اعلان شي. اخوا، د افغانستان د کرېکټ سوداګریز لیګ APL سیالۍ به هم د راتلونکي کال په فبرورۍ میاشت کې ترسره شي.



عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.



د پاکستان د کورنیو چارو وزیر شیخ رشید احمد، ویلي چې د طالب مشرانو کورنۍ په پاکستان کې اوسېږي او ددغې ډلې د ټپیانو درملنه د نوموړي هېواد په روغتونونو کې کېږي.

په غبرگون کې، د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب ویلي چې له طالبانو د اسلام آباد د ملاتړ د افشا کولو له امله د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر ستاینه کوي. محب زیاته کړې چې لانورو دغه ډول پاکستانیانو ته اړتیا لرو چې پر افغانستان د پاکستان له کړنو پرده پورته کړي.

